هفته واره رساله

د امیر اهل سنت دامت برکاتهم العالیه د کتاب
"د خبرو اترو اداب" دویم قسط

# په ټوقو کښې دروغ وئیل څنګه دي؟

- د ژبې حفاظت کوئ نو د اعمالو حفاظت به مو هم کيږي
- ښه وينا د الله پاک په توفیق سره وي
- د 70 کالو اعمال برباد
- د خان خوښۍ اته (8) اسباب او علاجونه


شیخ طریقت، امیر اهل سنت، باني دعوت اسلامي حضرت علامه مولانا ابو بلال
محمد الیاس عطار قادري رضوي دامت برکاتهم العالیه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ط

# پهٔ ټوقه کنبې دروغ وئيل څنګهٔ دي؟[1]

**دُعائے عطّار:** يا **الله** پاکه! څوک چې دا رساله: "په ټوقه کنبې دروغ وئيل څنګه دي؟" اولولي يا يې واوري، هغهٔ ته همېشه همېشه د رښتيا وئيلو توفيق ورکړې او هغهٔ ته د مور او پلار سره بې حسابه په جنَّت الفردوس کنبې داخله نصيب کړې. اٰمين بِجاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلّی اللهُ علیهِ واٰلِهٖ وسلّم

حضرتِ شيخ ابو بکر شِبلی رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه يوه ورځ د بغدادِ مُعلّٰی د جَيِّد عالِم حضرتِ ابو بکر بن مُجاهِد رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه ځائے ته تشريف راوړو، هغوئي فوراً ودرېدلو او هغوئي ته ورغاړه وتلو او د هغوئي تندے يې ښکل کړو او په ډېر تعظيم سره يې خپل ځان سره کښېنولو. حاضرينو عرض اوکړو: يا سيِّدي! تاسو او د بغداد خلق تر نن ورځې پورې دوئي [يعنې حضرت شبلي] ته ليونے وائئ، نو بيا نن مو د دوئي دومره تعظيم ولې اوکړو؟ جواب يې ورکړو: ما داسې هسې ونکړل، اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! ما نن شپه په خوب کنبې دا ايمان تازه کوونکے منظر اوليدو چې حضرتِ ابو بکر شبلی رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه پهٔ دربارِ رسالت کنبې حاضِر شولو نو د **اللّٰه** پاک آخري نبي صَلَّىاللّٰهُعَلَيۡهِوَاٰلِهٖوَسَلَّم ودرېدلو او دوئي ته ورغاړې وتلو او د دوئي تندے يې ښکل کړو او په خپل څنګ کنبې يې کښېنولو. ما عرض اوکړو: يَا رَسُولَ الله صَلَّىاللّٰهُعَلَيۡهِوَاٰلِهٖوَسَلَّم! په ابو بکر شبلی باندې د دومره شَفقَت [مهربانئ] څهٔ وجه ده؟ نو د **اللّٰه** پاک آخري نبي صَلَّىاللّٰهُعَلَيۡهِوَاٰلِهٖوَسَلَّم (د غيب خبر را کړو او) ويې فرمائيل: دا د هر نمونځ نه وروسته دا آيت لولي:

---

1 ... دا مضمون د امیرِ اهلِ سنّت دامَت بَرَکاتُهمُ العالیه د کتاب "گفتگو کے آداب" صفحہ 27 تا 37 نه اخستے شوے دے.

﴿لَقَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُوۡلٌ مِّنۡ اَنۡفُسِكُمۡ عَزِیۡزٌ عَلَیۡهِ مَا عَنِتُّمۡ حَرِیۡصٌ عَلَیۡكُمۡ بِالۡمُؤۡمِنِیۡنَ رَءُوۡفٌ رَّحِیۡمٌ(128)﴾ (پ11،التوبه:128) او د دې نه پس په ما باندې دُرُود وائي.

(القول البدیع، ص346)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ژبې حفاظت کوونکي د اعمالو حفاظت هم کيږي

حضرت يونس بن عُبيد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائيلي دي: "کوم کَس چې ژبه په حفاظت سره استعمالوي زۀ هغه په نيکو اعمالو کولو وينم."

(الصمت مع موسوعة ابن ابی الدنیا ج 7، ص: 63، قول نمبر 60)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** څوک چې ژبه بے سوچه د قينچۍ په شان چلوي د هغۀ نه بيا دروغ، غيبت هر څه کيږي، د زياتو خبرو کوونکي د ټوقو نه بچ کيدل هم ګران شي، او ټوقو ټقالو کښې يــې هم دروغ شامل شي. **ياد ساتئ!** په ټوقو کښې هُم دروغ وئيل جائز نۀ دي.

## په ټوقو کښې د دروغو ويونکي نه د حضور ﷺ ناراضي

د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک: هلاکت دے د هغه چا د پاره څوک چې خبرې کوي او د خلقو د خندَولو د پاره دروغ وائي، د هغۀ د پاره هلاکت دے، د هغۀ د پاره هلاکت دے. (ترمذي ج:4، ص:142، حديث: 2322)

## د دوزخ جَوَرې (کندې) ته پريوځي

د آخري نبــي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: "بنده خبره کوي او صرف دې د پاره يــې کوي چې خلق وخندَوِي! د دې په وجه هغه د دوزخ دومره جوَرې (کندې) ته پريوځي کومه چې د آسمان او زمکې تر مينځه فاصلې نه زياته ده او د ژبې په وجه چې څومره لغزشونه [غلطياني] کيږي هغه د هغې نه ډير زيات دي څومره چې د



www.dawateislami.net

قدم نه لغزشونه کيږي.“ (شعب الايمان: ج:4، ص:213، حديث: 4832)

حضرت علامه عبدُ الرَّءُوف مُناوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: امام غَزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې دلته د خندَوَلو والا خبرې نه مراد داسې خبره ده په کومه خبره کښې چې د غيبت يا مسلمان ته د تکليف رسولو، (يا د بلې ګناه) څه اړخ اوموندلے شي ګڼې صرف د ټوقې په خبره باندې وعيد نشته. (فيض القدير: ج:2، ص:425، تحت الحديث: 1984)

## ټوقې ټقالې کوونکي (کاميډين) دې مُتوجه شي!

د ”مِرآت“ جلد 6، په صفحه 463 کښې دي: د دې فرمان نه دې د نن سبا ټوقې کوونکي (کاميډين) وغيره وغيره عبرت واخلي کوم چې د خلقو په خندَوَلو ګُزاره کوي، د کومو ګټه چې د خلقو خندَوَل دي. د دې حديث د دې حصې: ”د ژبې په وجه چې څومره لغزش.....“ په شرح کښې دي: ”د ښپې د ښوئيدو نه د ژبې ښوئيدل زيات خطرناک دي ځکه چې د ښپې ښوئيدلو په وجه بدن زخمي کيږي خو د ژبې ښوئيدو سره زړهٔ، ځان او ايمان زخمي کيږي. د ژبې د ښوئيدو سره قتلونه او وِينې توئيږي، د ژبې د ښوئيدو سره انسان کافِر او بې دينه کيږي، ابليس (يعني شيطان) د خپلې ژبې د ښوئيدو سزا تر اوسه پورې خوري.“

## د ټوقو ټقالو (کاميډي) پروګرام مسئله

د ټوق مار (کاميډين) د ټوقو والا پروګرام مجموعي طور ناجائزه دے ځکه چې په دې کښې په نورو خلقو پسې ټوقې ټقالې کيږي، دغسې کتونکو ته (په خلقو پسې) د ټوقو کولو تعليم ورکول او د ډيرو خلقو زړونه آزارول شامل دي، داسې د فحش (يعني بے حيائي والا حرکتونو) استعمال هم پکښې په اشارو کِنايو کښې موجود وي، د مُعَيّن (ټاکلے) شوو ګسانو غيبت يا د هغوئي په مجبورو پسې ټوقې کول هم پکښې عام وي، څوک چې موجود وي د هغوئي او څوک چې نهٔ وي د هغوئي په شکل

و صورت پورې ټوقې كول هم وي او د غيبت سره سره د بهتان صورتونه هم رامخې ته كيږي. په ډيرو موقعو خو پكښې مَعَاذَالله كُفر هم كيږي. غرض دا چې د دې ټولو چارو نه خالي كيدل ډير ګران دي ځكه به په دې پروګرام باندې د ناجائزه حكم كيږي. داسې شو كول، په بل چا كول، كتل، ښودل، په دې اُجرت اخستل، د دې ويډيوز كتل، آډيوز اوريدل، په نورو اوريدل، د دې د پاره وائرل كول چې خلق يې واوري او اوګوري وغيره دا ټول حرام او دوزخ ته بوتلونكي كارونه دي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د آخرت په كار كښې تادي كول پكار دي

خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: په هر څيز كښې په اطمينان سره كار كول ښۀ دي، سِوا د آخرت د كارونو نه. (ابو داؤد، ج:4، ص:335، حديث: 481)

**شرحِ حديث:** د دُنيا په كار كښې تادي نۀ كول ښه خبره ده ځكه چې ممكنه ده هغه كار نقصان اوكړي او په وخت وركولو كښې د هغې خرابي معلومه شي او مونږ د هغې نه بچ شو مګر د آخرت كار خو ډير ښۀ دے دا د موقعې ميلاويدو سره فوراً كوئ ځكه چې وخت وركولو كښې كيدے شي چې موقع د لاسه لاړه شي. ډير ځله ليدل شوي دي چې بعضو ته (د حج) موقع ميلاؤ شي (خو هغه وخت يې) اونكړي بيا يې [ټول ژوند هډو] اونكړے شي. **الله** پاک فرمائي:

فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ ؕ ([مفهوم] ترجمۀ كنز الايمان: په نيكو كښې تادي كوئ.) (پ:2، البقرة: 148)

شيطان په كارِ خير (يعني د نيكۍ په كار) كښې په بنده ناوخته كوي [يعنې ليټ كوي] تر دې چې په آخِره كښې يې د هغې نه منع كړي. (مرآة المناجيح، ج:6، ص:627 ملخصاً)

## ښۀ وئيل د الله توفيق او......

حضرت امام ابو حامِد محمد غزالي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: د ژبې وينا د بدن په ټولو اندامونو باندې اثر اچوي، که ښې خبرې اوکړي نو د **الله** پاک توفيق [حاصلیږي] او که بدې خبرې اوکړي نو ذِلَّت او رسوائي [مقدر کیږي].

(منهاج العابدين (اردو) ص: 142، منهاج العابدين ص: 65)

## د الفاظو حفاظت اوکړئ!

چا [څۀ ښۀ] وئيلي دي: د خيالونو حفاظت کوئ دې نه الفاظ جوړيږي، د الفاظو حفاظت کوئ دې نه اعمال جوړيږي، د اعمالو حفاظت کوئ دې نه کردار جوړيږي، د کردار حفاظت کوئ دا پيژندګلو جوړيږي.

## د نورو سره هم ژبې دي

خپلې ژبې د نورو په عيبونو باندې مۀ ګنده کوئ ځکه چې عيبونه ستاسو هم دي او ژبې د نورو خلقو سره هم شته.

## په هُغه خبره کښې هيڅ خير نشته

د مسلمانانو وړومبے خليفه، حضرت سيِّدُنا صديقِ اکبر رضی اللہ عنہ فرمائي: "په هُغه خبره کښې هيڅ خير نشته د کومې مقصد چې **الله** پاک راضي کول نۀ وي."

(حلية الاولياء، ج:1، ص: 71، قول نمبر 82)

## په ښۀ انداز کښې رابلل کوئ او ثواب ګټئ

د شوندو نه د "شِش شي" آواز راويستلو سره څوک رابلل يا د هغۀ توجه حاصلول ښۀ انداز نۀ دے، کۀ نوم يې درته معلوم وي نو بهتره دا ده چې په نوم يا کنيت سره يې راوبلئ چې دا سنَّت دي، که چرې نوم يې درته معلوم نۀ وي نو د هغه ځائے د عُرف مطابق يې په مهذب انداز او الفاظو سره رابلئ. کله چې هم يو

مسلمان رابلئ نو د هغهٔ د زړهٔ د خوشحالولو د ثواب ګټلو په نیت سره ښهٔ انداز پکار دے او نوم هم پوره اخستل پکار دي، د موقعې مناسبت سره په آخِره کښې "ورور" یا "صاحب" لفظ وغیره هم زیاتوئ، که حج یې کړے وي نو "حاجي" لفظ هم ورسره شاملوئ.

## د چا په رابللو په جواب کښې لَبَّیك وئیل

څوک چې راوبللے شي د هغهٔ د پاره بهتره ده چې هغه "لَبَّیک" (یعني زهٔ حاضر یم) اووائي. خو د موقعې په مناسبت سره، هسې نهٔ چې ستاسو په "لَبَّیک" وئیلو مخامخ ګس [پوهه نهٔ شي او] پریشانه شي. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الْکَرِیم! د دعوتِ اسلامي دیني ماحول کښې د چا په رابللو بعضې وخت په جواب کښې "لَبَّیک" وئیلے شي او دا په غوږونو ډیر ښهٔ لګي او دې سره د مسلمان په زړهٔ کښې خوشحالي راتلے شي. د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیه والدِ صاحب حضرت علامه نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَیه لیکي: "چا چې به خوږ آقا (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) رابللو نو په جواب کښې به [خوږ آقا (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم)] "لَبَّیک" (یعني زهٔ حاضر یم) فرمائیلو." (سُرُورالقلوب ص:182)

د **الله** پاک د ټولو آخري نبـي، **محمدِ** عربـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په رابللو د صحابهٔ کرامو عَلَیهِمُ الرِّضوَان له طرفه "لَبَّیک" سره جواب ورکول هُم په احادیثو مبارکو کښې بیان شوي دي، د دې نه علاوه د یو وليُّ الله د فعل نه هم د دې ثبوت میلاویږي. د کروړاؤ حَنبلیانو عظیم پیشوا حضرت امام احمد بن حنبل رَحْمَةُ اللهِ عَلَیه نه د مسئلے تپوس کول غوښتلو د پاره به چې کله چا هغوئي خپل طرف ته متوجّه کولو نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیه به اکثر "لَبَّیک" فرمائیلو. (مناقب امام احمد بن حنبل للجوزي ص: 298)

د مَسنون دعاګانو مشهور کتاب: "حِصنِ حَصِین" کښې دي: "چې کله تاسو


www.dawateislami.net

یو ګس راوبلي نو تاسو په جواب کښې "لَبَّیک" وائي." (حِصنِ حَصِین ص104)

یا **اللہ** پاکه! مونږ ته د مسلمانانو په ښو نومونو سره د رابللو او د هغوئي د زړونو د خوشحالولو والا نیکو کړنلو توفیق راعطا کړې.

اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## ټوقې کوونکے د نظره غورزیږي

د مسلمانانو دویم خلیفه، حضرت سیِّدُنا عمر فاروق اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: "څوک چې ټوقې کوي هغه د خلقو په نظر کښې سپک کیږي."

(احیاء العلوم (اردو) ج:3، ص:389، احیاء العلوم، ج: 3، ص: 158)

## په خپل مینځ کښې د نفرت یو سبب

حضرت سیِّدُنا عُمَر بن عبد العزیز رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه اوفرمائیل: "خپل مینځ کښې ټوقې، مسخرې مهٔ کوئ ځکه چې داسې (په خندا خندا کښې) په زړونو کښې نفرت کښیني." (سیرت ابن عبد الحکم ص: 114)

## په ټوقو ټقالو کښې دُښمني پیدا کیږي

د هر خیز تُخم وي او د دُښمنئ تُخم مزاح (یعني ټوقې ټقالې) دي او دا هم وئیلے شوي دي چې ټوقې ټقالې عقل لرې کوي او ملګري جُدا کوي."

(احیاء العلوم (اردو) ج: 3، ص392، احیاء العلوم، ج: 3، ص: 159)

اے زمونږه خوږه **اللہ** پاکه! مونږه خلقو پسې د خندا، مَلَنډو او د زړهٔ خفه کوونکو ټوقو نه اوساتې او د مسلمان د عزت کولو جذبه رانصیب کړې.

اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ګناهِ کبیره (یعني غټې ګناه) تعریف

د سیپاره 27 سُوۡرَۃُ النَّجم آیت نمبر 32 حصې اَلَّذِیۡنَ یَجۡتَنِبُوۡنَ کَبٰٓئِرَ الۡاِثۡمِ وَ الۡفَوَاحِشَ ([مفهوم] آسان ترجمۂ کنز العرفان: هغه خلق چې د غټو ګناهونو او بے حیائۍ نه ځان ساتي په تفسیر کښې په صراطُ الجِنان جلد 9 صفحه 567 کښې دي: **ګناه** هغه عمل دے د کومې کوونکے چې د ګناه حقداره وي یا دا چې ناجائزه کار کولو ته ګناه وائي. بهر حال د ګناه دوه قسمونه دي: **(1)** صغیره [وړه] **(2)** کبیره [غټه]. **غټه ګناه** هغه ده د کومې په کولو چې په دُنیا کښې حد جاري کیږي (یعني د شریعت د حکم مطابق سزا ورکولے کیږي) لکه قتل، زِنا او غلا وغیره یا په هغې باندې په آخِرت کښې د عذاب وعید (یعني سزا) وي لکه غیبت، **چُغلي**، ځان ښه ګڼل [یعني تکبُّر] او ریا کاري وغیره او پۀ فحاشي (یعني بے حیائۍ) کښې هر قبیح قول، فعل (یعني بده خبره او بد کار) او ټول واړه او غټ ګناهونه شامل دي، البته دلته (یعني د آیت په دې حصه کښې) د فواحِش (یعني بے حیائۍ) نه هغه غټ ګناهونه مراد دي د کومو قباحت (یعني بدي) او فساد چې زیات وي لکه زنا کول، قتل کول او غلا کول وغیره. (خازن ج: 4، ص197196، مدارک، ص: 1181، ابو سعود، ج: 5، ص648 ملتقطاً)

## د ځان ښه ګڼلو تعریف

**اے عاشقانِ رَسُول!** په بیان شوي تفسیر کښې د ګناهونو په ذکر کښې د **ځان ښه ګڼلو** هم ذکر شوے دے، ځان ښه ګڼلو ته په عَرَبئ کښې "**عُجب**" وائي. **دمکتبةُ المدینه** د 352 صفحو کتاب "**باطنی بیماریوں کی معلومات**" په صفحه 36 نه 37 کښې د عُجب یعني ځان ښه ګڼلو تعریف داسې لیکلے شوے دے: د خپل کمال (مثلاً عِلم یا عمل یا مال) ځان طرف ته نسبت کول او د دې خبرې نه نۀ ویریدل چې دا به رانه

واخستے شي. ګويا ځان ښه ګڼونکے ګس نعمت د مُنعِمِ حقيقي (يعني د **الله** پاک) طرف ته منسوب کول هير کړي. (يعني ميلاؤ شوے نعمت مثلاً صحت يا حسن و جمال يا دولت يا ذهانت يا ښکلے آواز يا منصب وغيره خپله کارنامه ګڼي او دا هير کړي چې دا ټول د **الله** پاک عنايت دے او **الله** پاک چې کله هم اوغواړي راکړے شوے کمال يا راعطا کړے صفت بيرته هم اخستے شي) (باطنی بیماریوں کی معلومات ص:36تا37، احیاءُ العلوم، ج:3، ص:454 ملخصاً)

## د 70 کالو اعمال برباد

ځان ښه ګڼل د نيکو اعمالو د پاره سخته تباهي ده لکه څنګه چې رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: عُجب (يعني ځان ښه ګڼل) د 70 کالو اعمال بربادوي. (جامع صغیر، ص:127، حدیث:2084)

## د ګناه نه هم غټ جرم

د مدينے تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ځان ښه ګڼلو د تباهئ نه خبردارے ورکوي او فرمائي: "اګر که ستاسو نه څه ګناه اونشي خو زۀ په تاسو باندې د ګناه نه هم د غټ جرم ويره لرم او هغه "عُجب" دے" (يعني ځان ښه ګڼل دي). (شُعب الایمان: ج:5، صفحه: 453، حدیث: 7255) په دې فرمان مبارک کښې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عُجب غټه ګناه ګرځولې ده. (احیاءُ العلوم: ج:3، ص:452)

د هر قسمه ظاهري او باطني ګناه نه بچ کيدل په هر مسلمان لازم دي. **الله** پاک په قرآنِ پاک سيپاره 8، سورۃُ الانعام آيت نمبر 120 کښې ارشاد فرمائي:

وَ ذَرُوْا ظَاهِرَ الْاِثْمِ وَ بَاطِنَهٗ ؕ [مفهوم] آسان ترجمۀ کَنْزُ العِرْفان: او ظاهري او باطني ټول ګناهونه پريږدئ.

## د ځان خوښئ اهم وضاحت

حضرت امام ابو حامد محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي چې



www.dawateislami.net

کوم ګَس د علم، عمل او مال په ذریعه په خپل نفس (یعني ځان) کښې کمال (یعني صفت) پیژني د هغهٔ دوه حالتونه دي: **(1)** په هغو کښې یو حالت دا دے چې هغهٔ سره د هغه کمال د ختمیدو ویره وي او هغهٔ سره د دې خبرې ویره وي چې په دې صفت کښې به څه بدلون راشي یا به بالکل ختم شي نو داسې ګَس ځان ښه ګڼلو والا نهٔ دے **(2)** دویم حالت دا دے چې هغه کس د هغې د زوال (یعني کمیدو یا ختمیدو) ویره نهٔ لري خو هغه په دې خبره مطمئِن او خوشحاله وي چې **الله** پاک ما له دا نعمت راکړے دے په دې کښې زما هیڅ کمال نشته. دا هم ځان ښهٔ ګڼل نهٔ دي.

او یو دریم حالت هم دے کوم چې ځان ښهٔ ګڼل دي او هغه دا دے چې د هغهٔ د دغه کمال د زوال (یعنې د دغې صفت د کمیدو یا ختمیدو) ویره نهٔ لري بلکې هغه په دې مطمئِن او خوشحاله وي او د دې خوشحالئ سبب دا وي چې دا کمال نعمت، خیر او سربلندي ده. هغه په دې نهٔ وي خوشحاله چې دا د **الله** پاک عنایت او نعمت دے بلکې د هغهٔ (یعني ځان ښه ګڼلو والا بنده) د خوشحالئ وجه دا وي چې هغه دغه خپل وصف (یعني خوبي) هم خپل کمال ګڼي او د **الله** پاک عطا او عنایت یـې نه ګڼي. (احیاءُ العلوم، ج:3، ص:454)

## د ځان ښهٔ ګڼلو یو مُجَرَّب علاج

امامِ غزالي رَحمَۃُاللہِعَلَیه فرمائي: صحابهٔ کرامو عَلَیہِمُ الرِّضوَان به د خپل زُهد او تقویٰ باوجود دا ارمان کولو چې کاش! هغوئي خاوره، بوس یا مرغئ وے. نو عقل مند ګَس څنګه په خپل عمل ځان ښه ګڼلے شي یا تَکَبُّر کولے شي او څنګه د خپل نفس نه بې ویرې کیدے شي؟ دا د ځان ښهٔ ګڼلو علاج دے ځکه چې دې سره د ځان ښهٔ ګڼلو ماده بالکل د جرړې نه کټ شي. کله چې ځان ښه ګڼلو کښې اَخته

ګَس د دې طريقۀ علاج مطابق د ځان ښۀ ګڼلو علاج کوي نو کوم وخت چې د هغۀ په زړۀ باندې ځان ښۀ ګڼل غالب راځي نو د نعمت د اخستو ويره هغه د تَڪَبُّر (يعني ځان لوئي ګڼلو) نه بچ کوي بلکې کله چې هغه کافرانو او فاسقانو ته اوګوري چې د کومې ګناه نه بغير هغوئي د ايمان او د **اللّٰه** پاک د اطاعت د دولت نه **محرومه** پاتې شوي دي نو هغه ويريږي او دا سوچ کوي چې کوم ذات د دې خبرې پرواه نه لري چې بغير د څه جرم نه څوک **محرومه** کړي يا بغير د څه وسيلې نه چا ته عطا وکړي نو هغه ورکړے شوے نعمت بيرته هم اخستے شي. څومره ايمان والا مرتد شول او نيک مسلمانان فاسقان شول او د بدې خاتمې ښکار شول. کله چې انسان داسې سوچ کوي نو **ځان ښه ګڼل** يې په زړۀ کښې نۀ پاتې کيږي.

(احياءُ العلوم (اردو) ج: 3، ص: 1106، احياءُ العلوم: ج: 3، ص: 458)

**حُبِ جاہ و خود پسندی کی مِٹادے عادتیں** **یا الٰہی! باغِ جنّت کی عطا کر راحتیں**

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د ځان ښۀ ګڼلو 8 اسبابه او علاجونه

**امام** ابو حامد **محمد** بن **محمد** غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په "**اِحياءُ الْعُلُوم**" کښې د ځان خوښئ دا 8 اسباب او د دې علاجونه ښودلي دي:

**(1) وړومبے سبب:** "د خپل جسماني ښائست په باره کښې ځان ښه ګڼلو کښې اخته کيدل." د دې **علاج** دا دے چې بنده په خپلې باطني ګندګئ باندې غور اوکړي او د خپل آغاز او **انجام** (يعني په شروع کښې ګنده څاڅکے وو او په آخر کښې به سخا شوے مړے وي په دې) باره کښې دې غور اوکړي.

**(2) دويم سبب:** "په خپل طاقت او قوت ناز کول." د دې علاج دا دے چې

بنده دا سوچ اوکړي چې **الله** پاک په معمولي شان ازمينښت (مثلاً بيمارئ، حادثه وغيره) کښې د اخته کولو په سبب هم دا قوت زما نه بيرته اخستے شي.

**(3) دريم سبب:** ”د عقل او ذهانت په وجه ځان ښه ګڼلو کښې اخته کيدل.“ د دې علاج دا دے چې بنده سوچ اوکړي چې د څه مرض يا حادثے وغيره په سبب دا نعمت زما نه بيرته هم تلے شي.

**(4) څلورم سبب:** ” په اعلٰـی نسب (يعني اوچت خاندان) باندې فخر کول.“ د دې علاج دا دے چې بنده دا سوچ اوکړي چې زۀ د نيکو اعمالو نۀ کولو باوجود د خپلو مشرانو ( يعني پلارانو او نيکونو [پخوانو بزرګانو]) درجې ته څنګه رسيدے شم؟

**(5) پينځم سبب:** ”د ظالم په حمايت [حاصليدلو] تڪبُّر کول، او د اهلِ دِين او اهلِ عِلم طرف ته چې د دۀ کوم نسبت دے هغې ته اَهَمِّيَّت نۀ ورکول.“ د دې علاج دا دے چې بنده دا سوچ اوکړي چې بنده د هغه ظالمَانو خلقو په آخري انجام باندې غور وکړي او دا سوچ اوکړي چې ظالمَان خلق خو د **الله** پاک د غَضَب لائق دي.

**(6) شپږم سبب:** ” د خپلو نوکرانو وغيره په وجه تَڪَبُّر کول.“ د دې علاج دا دے چې بنده خپلې کمزورئ ته اوګوري او دا خبره ياده لري چې ټول خلق د **الله** پاک عاجزه بندګان دي.

**(7) ووم سبب:** ”په مال و دولت تَڪَبُّر کول.“ د دې علاج دا دے چې بنده د مال و دولت د آفتونو، د هغې د حقوقو او د هغې نه پيدا کيدونڪې فتنې په نظر کښې ساتي.

**(8) اتم سبب:** ” په خپله غلطه رائے باندې تڪبُّر کول.“ د دې علاج دا دے

چې بنده د خپلې رائے په صحيح کيدلو هيڅ کله هم باور نۀ کوي (يعني غور دې کوي چې کيدے شي زما رائے غلطه وي)

(باطنی بیماریوں کی معلومات، ص: 38 تا 43، احياءُ العلوم: ج: 3، ص: 1107تا1119 ملخصاً)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## وران کارے ځلمے په سميدو شو

اے **عاشقانِ رَسُول!** د ځان ښه ګڼلو او د نورو ګناهونو معلوماتو حاصلولو، د ګناهونو عادت پريښودلو او د نيکئ جذبه زياتولو د پاره د **دعوتِ اسلامي** ديني ماحول سره هر وخت وابسته اوسئ. د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې وران شوي خلق سميږي د دې يو "مدني سپرلے" تاسو ته اورووم:

د لاهور، پنجاب يو ځلمي د لوبو ډير شوق لرلو، د سحر نه تر ماښامه پورې صرف لوبې کول د هغه کار وو، د هغۀ والد صاحب چې د يو جومات امام هم دے، ډير پوهه کولو خو هغه نه سميدو. د لوبو سره يې دومره شوق وو چې مَعَاذَاللّٰه جواري يې هم شروع کړه. د لوبو نه علاوه د ملګرو سره د شپې تر ناوخته پورې په کوڅو او بازارونو کښې ګرځيدل، انټرنيټ کيفے ته تلل د هغۀ خوښې مشغلې وې. د ښتياؤ وئيلو عادت يې هم نه وو، هُم دا وجه وه چې د شپې به ناوخته کور ته راغلو نو وجه به يې هم غلطه ښودله. د هغۀ په ژوند کښې انقلاب څه داسې راغلو چې د هغۀ بابا جان د **دعوتِ اسلامي** د ديني ماحول سره تعلق لرونکي اسلامي ورور ته د هغۀ حالات اووئيل او د هغۀ د اصلاح کولو خواست يې اوکړو. د هغه اسلامي ورور په اِنفِرادي کوشش هغۀ دوه درې ځله د سنتو ډکې اجتماع کښې شرکت اوکړو او بيا د

دريو ورځو د سنتو زده کولو او ښودلو مدني قافلے مسافر جوړ شو، د عاشقانِ رسول په صُحبت کښې يــې هٰغه سنتونه وغيره زده کړل کوم چې ورته **مخکښې** نۀ وو معلوم. کله چې د مدني قافلے نه بيرته راغلو نو دا اراده يــې وکړه چې اوس به په معاشره کښې د شريف او نيک انسان جوړيدلو سره ژوند تيرووم. د **الله** ربُّ العِزّت په رحمت سره هغه د **دعوتِ اسلامي** ديني ماحول سره وابسته شو.

**رب کے در پر جُھکیں، التجائیں کریں** **بابِ رحمت کھلیں، قافِلے میں چلو**

(وسائلِ بخشش، ص: 671)

صَــلُّــوْا عَلَى الْحَــبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## هفته واره رساله مطالعه

اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! د شیخ طریقت امیر اهلِ سُنَّت حضرتِ علامه مولانا محمد الیاس عطار قادري رَضَوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه او خلیفه امیر اهل سنت الحاج ابوأسید عبید رضا مَدَنِي مَدَّ ظِلُّهُ الْعَالِي له طرفه هره هفته د یوې رسالې لوستلو یا اوریدلو ترغیب ورکولے کیږي. مَا شَآءَ اللّٰه الْكَرِيْم! په لکونو اسلامي ورونه او اسلامي خویندې دا رساله لولي یا یې اوري او د امیر اهلِ سُنَّت او خلیفهٔ امیر اهلِ سُنَّت د دعاګانو نه حصّه موي. دا رساله په آډیو کښې د دعوتِ اسلامي د ویب سائټ www.Dawateislami.net یا **Read and listen Islamic book** د ایلیکیشن نه فري ډاؤن لوډ کېدے شي. د ثواب په نیت یې ځپله هم ولولئ او د خپلو مرحومینو د ایصالِ ثواب دپاره یې شېئر هم کړئ.

(شعبه هفته واره رساله مطالعه)


فیضانِ مدینه محله سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچي.

UAN +92 21 111 25 26 92    0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net